مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوري ۲۰۲۶/۰۷/۰۷

# په دې تاريخي پړاو کې د ملي يووالي د پياوړتيا لپاره باید پر مشترکاتو تمرکز وشي

افغانستان د خپل معاصر تاريخ له هغو حساسو پړاوونو څخه تېرېږي چې د هر وخت په پرتله ملي همغږي، سياسي تدبير او ټولنيز تفاهم ته ډېره اړتيا لري. په داسي شرايطو کې چې هېواد له بېلابېلو سياسي، اقتصادي او ټولنيزو ننګونو سره مخ دی، هره هغه موضوع چې د خلکو ترمنځ د بېلتون او تقابل فضا رامنځته کوي، بايد په ډېر دقت، مسؤليت او ملي ليدلوري وڅېړل شي.
په وروستيو کې د ټولنيزو رسنيو له لارې د ژبې اړوند بحثونه، په ځانګړې توګه د «دري» او «فارسي» د نومونو، تاريخي مخينې او اړيکو په اړه، پراخ شوي دي. بېشکه دا موضوع د ژبپوهنې، تاريخ او ادبياتو له مهمو علمي بحثونو څخه ده، خو د هغې څېړنه او ارزونه بايد د علمي ميتودونو، مستندو تاريخي سرچينو او مسلکي څېړنو پر بنسټ ترسره شي، نه د ټولنيزو رسنيو په احساساتي او قطبي فضا کې.
په نړۍ کې ګڼې تجربې ښيي چې د ژبې، قوم، مذهب او هويت په څېر حساس موضوعات کله ناکله د سياسي رقابتونو، تبليغاتي جګړو او حتی د بهرنيو لاسوهنو لپاره د اغېزمنو وسيلو په توګه کارول شوي دي. له همدې امله، سياسي هوښيارتيا دا ايجابوي چې د هرې داسې موضوع د مطرح کېدو وخت، انګېزه او احتمالي پايلې په دقت وارزول شي، څو د ملي يووالي او ټولنيز ثبات پر وړاندې د ناخواسته زيان مخه ونيول شي.
دا په هېڅ صورت د دې معنا نه لري چې علمي بحثونه بايد محدود شي. برعکس، د علم ازادي او علمي مناظره د هرې پرمختللې ټولنې اړتيا ده. خو د علمي بحث او سياسي قطبي کېدو ترمنځ بايد روښانه کرښه موجوده وي. د «دري» او «فارسي» د اړيکو، ورتهوالي او توپيرونو په اړه جدي علمي څېړنې بايد په پوهنتونونو، علمي کنفرانسونو، څېړنيزو مرکزونو او تخصصي مجلو کې ترسره شي؛ هلته چې استدلال، سند او علمي نقد د بحث معيار وي، نه احساسات، شعارونه او متقابل تورونه.
ټولنيزې رسنۍ، که څه هم د نظر د تبادلې مهمه وسيله ده، خو د خپل جوړښت له مخې د پېچلو علمي موضوعاتو د ژورې ارزونې مناسب چاپېريال نه ګڼل کېږي. په دغو فضاوو کې ډېر وخت علمي استدلال د احساساتو، تعصب او سياسي قطبي کېدو تر سيورې لاندې پاتې کېږي، چې پايله يې د تفاهم پر ځای د بېباورۍ او ټولنيز واټن زياتېدل وي.
نن د افغانستان اساسي اړتيا دا ده چې پر هغو ارزښتونو تمرکز وشي چې د هېواد د ټولو اتباعو ترمنځ د ګډ ژوند، متقابل درناوي او ملي يووالي بنسټ جوړوي. د ګډو ګټو پياوړتيا د اختلافاتو له ژورولو څخه ډېر ارزښت لري. فکري بلوغ دا ايجابوي چې د هرې حساسې موضوع په اړه، تر هر څه وړاندې، دا وپوښتل شي چې د هغې د مطرح کېدو وخت، موخه او اغېزې د هېواد له ملي ګټو سره څومره همغږي لري.
**علمي حقيقت د څېړنې، استدلال او ازاد علمي بحث له لارې موندل کېږي، خو ملي يووالی د زغم، متقابل احترام او ګډ مسؤليت محصول دی.** بريالۍ ټولنې هغه دي چې هم د علمي اختلاف درناوی کوي او هم اجازه نه ورکوي چې علمي موضوعات د ټولنيزې تفرقې او سياسي تقابل په وسيله بدل شي. افغانستان هم همداسې متوازن او مسؤلانه چلند ته اړتيا لري؛ داسې چلند چې د علم ازادي خوندي کړي او په عين حال کې د ملي يووالي او ګډو ملي ګټو ساتنه هم تضمين کړي.

نور محمد غفوری
04.7.2026


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ